# "يواځې مليشه مه وايی"
## د مجازاتو څخه معافيت، مليشه، او "افغان ملي پوليس"
## لنډيز

مونږ بايد په داسې څه لاس پورې نه کړو چې په ترڅ کې يې د قدرت پخوانيو واکمنو مليشې بيا ژوندی شي. ځکه چې ځينې داسې ښه کارونه ددوی تر يو چوکاټ راوستلو لپاره ترسره شوي او مونږ بايد هڅه وکړو چې هغه ځای ته بيرته په شا و نشو چې مخکې هم هلته وو.
ـــامريکايي جنرال ډان مک نل، د آيساف قوماندان چې د برېتانيا د قومي مليشو د جوړولو د پلان سره مخالف دی، د ۲۰۰۸ کال د جنوری مياشت.

د يو ماشوم په اړه چې تل به ناروغ وُ، يو متل موجود دی. وايي چې ددې پرځای چې د هغه کورنی د هغه درملنه وکړي، نوم يې بدل کړ. مونږ د افغان ملي پوليسو سره د همغه ماشوم کار کوؤ. همدارنګه مونږ په ټولنه کې د ټوپک سالارو او مافيا په شان ستونزو سره لاس او ګريوان يو مګر ددې پرځای چې درملنه يې وکړو، نوم يې بدلوؤ او يو نوی نوم ورکوؤ.
ـــ تورن جنرال عصمت الله دولت زئ، د کورنيو چارو د وزارت پخوانی چارواکی، د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر ۲۶

افغان ملي پوليس د بهرنيو ځواکونو د وتلو استراتيژي ده.
ـــ نړيوال ملکي چارواکی، کابل، د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر ۹

په افغانستان کې وسلوالې ډلې مخ پرزياتيدو دي. د ۲۰۰۱ کال د سپټامبر د حملو په تعقيب په افغانستان باندې د امريکا د متحده آيالاتو د وسلوالی مداخلې څخه يوه لسيز وروسته، د طالبانو تر مشری لاندې تاو تريخوالی د هيواد په مختلفو برخو کې ډير شوي او شدت يې موندلی دی. ددې په غبرګون کې افغان دولت او د هغه نړيوالو ملاتړو د نړيوالو ځواکونو د وتلو د استراتيژی د يوې برخې په توګه، افغان ملي اردو او ملي پوليسو ته په چټکی سره پراختيا ورکوي. دولت ګڼ شمير ناقانونه وسلوالي ډلې په ځانګړي ډول د هيواد په شمال کې بيافعالي کړې دي. ددې لپاره چې د هيواد په ډيری برخو کې د مخ په خرابې وضعې څخه مخنيوی وشي، په سلګونو وړې مليشې ډلې د محلي زورواکو او ځيني هم په خپله د خلکو د ټولنو له لوري رامنځته شوي دي.

د څو لسيزو راپديخوا د افغانانو ګڼی بشري حقونه د محلي مليشو له لوري نقض شوی دي چې ډول ډول وسلوالي ډلې ټپلې پکې شاملې دي چې ځينې يې د قومي مشرانو، ځينې د خصوصي کمپنيو، جنايتکارو ډلو او هم ځيني يې د اوربکو لپاره کار کوي. په افغانستان کې مليشه ته ترټولو نژدې مترادفه کلمه اربکي ده. پدی کلمه کې هغه نامنظم ځواکونه هم شامل دي چې د دولت د رسمي پروګرامونو لخوا رامنځته شوي وي. هرډول مليشه ځواکونه په خونړيو قومي دښمنيو، هدفي وژنو، د مخدره توکو په قاچاق او اخاذيو کې ښکيل دي. جنسي تجاوز عام دی چې قربانيان يې ښځې، نجوني او هلکان دي. نړيوال ځواکونه د مليشو سره نژدې همکاري لري پداسې حال کې چې ډيری مليشه ځواکونه د بشر د حقونو څخه په سرغړونو باندې تورن دي.

ډيری وخت مليشې د محلي زورواکو يا ټوپکسالارو له لوري کنترولیږي – په ځانګړي ډول پخواني جهادي قوماندانان چې قدرت يې د پخواني شوروي په وړاندې د جهاد د وخت څخه سرچينه اخلي او آن تر ملي او محلي

دولت پورې رسیدلي دي. د ملیشو سرغړونی افغانان د ملي دولت څخه دواتې لامل شوی دی او په ځینو ځایونو کې د اورپکو په پراختیا کې یې هم مرستې کړې دي، دا موضوع یوه فاسده کړی رامنځته کړی ده.

د بیلګې په توګه، کندوز ولایت چې د هیواد په شمال ختیځ کې پروت دی او له ډیره وخته د هیواد د ډیرو امن سیمو څخه ګڼل کیږي مګر اوس د ملیشو له لوري احاطه شوی دی. په نوموړي ولایت کې د طالبانو او نورو اورپکو له لوري تازه ناامنی او د ولایت ځینې سیمې د هغوې په لاس نیول د ملیشو د رامنځته کیدو سبب وګرځید. مګر د ملیشو په شمیر کې زیاتوالی هم د ملي امنیت د ریاست یوه داسې پالیسې وه چې د پخوانیو لسیزو د ملیشو شبکې یې د شورای نظار چې پخوا نې مشري د احمد شاه مسعود په لاس کې وه او د اسلامي جمعیت ګوند، په مټ بیا فعالې کړې. د ملي امنیت ریاست نوموړو ته د نظارت د شرط څخه پرته پیسې او وسلې ورکړې. دا چې نوموړې وسلوالې ملیشې د پخوا څخه د محلي او مرکزي حکومت سره اړیکې لري او هغوې یې ملاتړ کوي، نو ځکه هم نوموړې وسلوالې ډلې په یو ډول معافیت سره فعالیت کوي.

په کندوز کې د ملیشه ځواکونو خپریدل او د هغوې ځواک یو ګواښ ته بدل شوی دی. د بشر د حقوقو د څار ادارې په کندوز کې د ملیشه ځواکونو له لوري د بشري حقوقو د تر پښو لاندې کولو ګڼ شمیر راپورونه ترلاسه کړي چې ډیرې پیښې یې وژنې، جنسي تیري، وهل ټکول، او اخاذي په بر نیسی. دا په داسې حال کې ده چې د نوموړو جنایاتو د مرتکبینو په وړاندې هیڅ ډول پلټنی صورت نه دی موندلی.

د بیلګې په توګه، د ۲۰۱۰ کال د اګست په میاشت کې د خان آباد په ولسوالی کې اربکیو یو ځوان سړی پدې تور وواژه چې د هغوې په ډلې کې یې د ګډون څخه انکار کړی ؤ. په نوموړې پیښه کې محلي څارنوال د تورن قاتل د نیولو څخه ددې لپاره انکار وکړ چې قوماندان یې د ولایت د امنیه قوماندان او همدارنګه یې د یو محلي زورواکي میرعلم سره نژدې اړیکې لرلې.

پدې وخت کې بیا، د امریکا متحده ایالات او افغان دولت د کلي په کچه نوي ځواک ته چې زرګونو کسانو ته رسیږي وسلې، روزنې، او تنخواوې ورکوي چې د افغانستان محلي وسلوال ځواک یې بولي. نوموړی ځواک د امریکا په دستور او مالي مرسته جوړ شوی دی. دغه محلي افغان پولیس رسماً ددې لپاره تشکیل شوی چې "محلي ټولنې په امن کې کړي او کلیوالي سیمې د وسلوالو د نفوذ څخه وژغوري". په پام کې ده چې د خلکو څخه د دفاع لپاره ملي امنیتي ځواکونه د قانون د حاکمیت د ځواک د لرلو څخه پرته زیات کړي. دا کار د امریکا پوځ ته تر ۲۰۱۴ ز کال پورې افغان ځواکونو ته د واک سپارلو او امنیت راوستلو غوره لار ښکاري.

افغان دولت او د امریکا متحده ایالات غواړي چې افغان محلي پولیس ځواک په رامنځته کولو د پخوانیو ناخوالو تجربو څخه ډیر څه زده کړي او وایي چې دا ځل به د پخوا څخه ډیر توپیر ولري. ددې ځواکونو د تشکیل ملاتړي وایي چې په تشکیل کې یې تر ټولو مهم او غوره اقدام د سیمې د خلکو ونډه ده یعنې دا چې د محلي افغان ځواکونو جلب او جذب د سیمې د خلکو او ټولنې په مشوره ترسره شوي دي. او همدارنګه د امریکا متحده ایالاتو د ځانګړو ځواکونو تر کلکې څارنې لاندې هم دي ترڅو د پخوانی ملیشې د ځواکمن کیدلو څخه ډډه وشي. پداسې حال کې چې دا ډول موخې د ستاینې وړ دي، نو د نویو افغان محلي پولیسو په جوړولو کې کافي هڅې نه ترسره کیږي ترڅو د دولت پلوؤ پخوانیو ملیشو لخوا د ترسره شویو بشري سرغړونو او معافیت د تکرار څخه مخنیوی وشي. په حقیقت کې ډیرو افغانانو د بشر د حقوقو د څار سازمان ته ویلي چې د نوي افغان پولیس ځواکونو توپیر د اربکیو څخه آسان کار ندی.

ملیشه ځواکونو ته د یوې وروستی او ثابتې امنیتي مرجع په توګه داښیی چې د ملیشو یوه کوچنی ډله به څومره ځورونکې وي کله چې هغوې د پوره څارنې پرته او په معافیت سره بشري سرغړونې ترسره کوي. کله چې اربکیان پخپله په جنسي تیري، وژنې، غلا، او ګواښولو باندې اخته وي او قربانیان عدالت ته لاړه او یا هیڅ مراجعه نه کوي، نو پدې ډول حالاتو کې اربکیان نه یواځې دا چې ناامني نه کموي بلکه لمن ورته وهي.

دا راپور په تیره لسیزه کې د خلکو د دفاعي ځواکونو په جوړولو کې ددولت هغو هڅو ته عمومي کتنه کوي چې منفي پایلې یې لرلې. د طالبانو د راپرځیدو څخه راپدې خوا په دا ډول ځواکونو کې افغان کومکي ملي پولیس، د افغان د ټولنیز خبراوي د پروګرام ځواکونه، د ټولنې څخه د دفاع ځواکونه، د ټولنې دفاعي نوښت/د محلي دفاع د نوښت ځواکونه، لنډ مهاله امنیتي ځواک د مهم بنسټیزو یونټونو لپاره، شامل دي. مونږ په ځیرسره د محلي اربکیانو لخوا په کندوز کې د نویو بشري سرغړونو تشریحات څیړو او په اړه یې مدارک وړاندې کوؤ او همدارنګه د هغو نورو سرغړونو په اړه چې په وردګ ولایت کې د نوي جوړ شوي افغان محافظتي پروګرام لخوا ترسره شوي دي، د خلکو د دفاعي ځواک ترټولو وروستنۍ تجربه همدا د افغان محلي پولیسو د ځواک رامنځته کول دي.

پداسې حال کې چې ځینې ټولنیز دفاعي پروګرامونه له ځینو نورو څخه بریالي دي مګر ټول یې د بررسی او نظارت د نشتوالي سره مخ دي آن تردې چې ډیری وخت په معافیت او د بشري حقوقو څخه د سرغړونو په جرایمو باندې هم مرتکب کیږي. دا ټول پروګرامونه له مختلفو لارو او په مختلفو نومونو د زورواکو او محلي وسلوالو تراغیز لاندې راغلي کوم چې ویره خپروي، محلي سیاسي اندیښنې زیاتوي او قومي دښمنۍ او شخړو ته لمن وهي. آن تردې چې په ځینو سیمو کې د طالبانو په ګټه ختمه شویده. چې دغه موضوع په آخره کې هغه کوم موخې چې د اربکیو د جوړیدو اساسي هدف وؤ دپوښتنې سره برابر کړې دی.

د دی پیلی په نظر کی نیولو سره، اوسنی ځیړنی د افغان محلي پولیسو د ځواک د یو کال لاس ته راوړنی په اړه پوره معلومات وړاندې کوي. له یو شمیر مرکو څخه چې په کابل، وردګ، هرات، او بغلان کې ترسره شوي او همدارنګه ځینې نورې مرکې چې په کندهار، کندوز او اروزګان کې ترسره شوي دا معلومیږي چې که چیرې د بشري حقوقو د سرغړونو څخه افغان محلي پولیس ځواک د مخنیوي په برخه کې لازم ګامونه پورته نشي نو له نوموړي ځواک څخه به داسې ناخوالې رامنځته شي چې د ملي دفاعي ځواک په برخه کې پخوانۍ هڅې به له خاورو سره خاورې کړي او عامه نظم او امنیت به هم ورڅخه اغیزمن شي. افغان محلي پولیس ځواک رامنځته کول یوه خطرناکه استراتیژي ده چې لنډ مهالو موخو ته د رسیدو لپاره یوځل بیا کلیوالې ډلې د پوره نظارت او مسؤلیت منلو څخه پرته په وسلو سمبالیږي.

لکه چې د بشر د حقوقو د څار د سازمان په تیرو راپورونو کې په مستند ډول ذکر شوي[1]، په موجوده پروګرام کې د کمزورتیاؤ په نښه کولو او افغان محلي پولیس ځواک له لوري بشري سرغړونې د بیلګو څخه زمونږ هدف دا نه دی چې د وژنو لوړه کچه او د طالبانو په مټ تروریستي بریدونه، هدفي وژنې، اعدامونه او انسان تښتونې کمې کړو. زمونږ یواځینی او ژوره اندیښنه د بې وزلو افغانانو لپاره امنیت دی. لکه چې په دغه راپور کې په څرګند ډول په ګوته شوې چې د ناامنۍ لامل یواځې د " دولت ضد عناصر" ندي. کمزورې حکومتداري، اداري فساد، د بشري حقوقو څخه سرغړونې او د دولت سره د تړلو ځواکونو معافیت د یاغیتوب اساسي لاملونه دي. که چیرې افغانستان ته ریښتینی امن او ثبات راوستل وي نو باید نوموړو ستونزو ته د پاي ټکی کیښودل شي.

### د افغان محلي پولیسو ځواک

د افغان محلي پولیسو ځواک د افغان دولت له لوري د ۲۰۱۰ کال د جولاي په میاشت کې د افغان حکومت له لوري تصویب شو او د ۲۰۱۰ کال د اګست په ۱۶ د ولسمشر د فرمان پراساس رامنځته شو. د امریکا دمتحده ایالاتو د پوځ او د افغانستان د حکومت په وینا نوموړي ځواک ته ددې لپاره وده ورکول کیږي چې په هغو سیمو کې د محلي ټولنو څخه دفاع وکړي چیرې چې افغان ملي پوځ لږ شتون لري او یا یې شتون د پراختیا په حال کې کوي. په رسمي ډول افغان دولت په پام کې لري چې د افغان محلي پولیسو ځواک شمیر ۱۰۰۰۰ تنه وي مګر د امریکا د متحده ایالاتو کانګرس د ۳۰۰۰۰ کسانو لپاره بودیجه منظور کړې ده. د ۲۰۱۱ د اګست ترمیاشتې پورې د نوموړي ځواک لپاره ۷۰۰۰ تنه ګمارل شوي دي.

---

[1] د بشر د حقوق د څار په سازمان کې یې وګورئ: "لس ډالري طالب" او د میرمنو حقوق: د افغان میرمنو لپاره د سولې او ملي پخلاینې پایلې (جولای ۲۰۱۰); د بشر بیه: په افغانستان کې د اورپکو د بریدونو پایلې (اپریل ۲۰۱۰); سبقونه د ترور په لمن کې: په افغانستان کې په معارف باندې برید (جولاي ۲۰۰۶)

د افغان محلي پوليسو په ځواک کې د "پوليس" کلمه سمه نده ځکه چې دلته افغان محلي پوليس ځواک په حقيقت کې پوليس نه دي. د نوموړي ځواک د بنډو لايحه په دې پيليږي چې دا يو "دفاعی ځواک" دی کوم چې د قانون د تنفيذ واکونه نلري. ددې پروګرام ملاتړي وايي چې دا ځواک ترډېره يو لنډ مهالی ځواک دی چې د افغان ملي پوليسو سره د مرستې په توګه رامنځته شوی دی ترڅو افغان امنيتي ځواکونه د دا ډول ته وخت ورکړي چې د دفاعي استقرار پرځاي په جګړييزو عملياتو باندې تمرکز وکړي. د نړيوالو ځواکونو د وتلو سره سم به افغان امنيتي ځواکونو دا ډول عملياتو بشپړ مسؤليت په غاړه واخلي. لکه چې يو نړيوال چارواکي د بشر د حقوقو د څار سازمان ته داسې وويل: "د افغان محلي پوليسو ځواک د نړيوالو د وتلو استراتيژي دي".

د افغان محلي پوليسو د ځواک ملاتړي ددې ځوا ک خونديتوب ته اشاره کوي، مثلاً د افغان محلي پوليسو په ځواک باندې د کورنيو چارو د وزارت کنترول، د کلي د شورا تاکل او د هغوي روزنه او د غړو نظارت يې دامريکا د متحده ايالاتو د ځانګړو عملياتي ځواکونو په لاس. په پام کې ده چې د افغان محلي پوليسو ځواک به ولسوال ته د خپلو کړنو راپور ورکوي. مګر د کورنيو چارو د وزارت چارواکو د بشر د حقوقو د څار سازمان ته ويلي چې ددې ډول خونديتوبونو ژمنې د تيرو نوښتونو سره هم شوې وې مګر په ناکامی سره پاې ته ورسيدې.

يو نظر چې د افغان محلي پوليسو ځواک تقويه کوي کيداي شي دا وي چې ملي پوليس به ددې وړ وي چې د افغان محلي پوليسو ځواک کنترول کړي سره لدې چې د کمزورې قوماندې او جوړښت لرونکي دي او د عملياتو په سيمه کې د هغوي شمير هم د ملي پوليسو په تناسب ډير دی. ددې سره سره د افغان محلي پوليسو ځواک ډيرى وخت د دولتي چارواکو او محلي زورواکو سره بيل غير رسمي چينلونه لري چې کولاي شي په مټ يې د رسمي مسؤليت څخه خوندي پاتې شي.

هغه دستور چې د افغان محلي پوليسو ځواک رامنځته کوي، د نوموړي ځواک د واکونو په اړه په ابهام کې دی. د افغان محلي پوليسو ځواک د توقيف او تلاشي کولو حق او دا چې هغوي ترڅومره وخت پورې کولاي شي چې يو توقيف شوی کس وساتي او بيا يې ملي پوليسو ته وسپاري، تر دې دمه روښانه ندی. د افغان محلي پوليسو ځواک په لومړي سر کې ۳ اونيزه روزنه (چې زرترزره به دا موده ۸ اونيو ته وغځيږي) ترسره کوي چې دا د ګزمې د افسرانو د ۶ اونيزې روزنې سره برابره ده. د افغان محلي پوليسو ځواک په پلان کې دا هم روښانه نه ده چې د افغان محلي پوليسو ځواک په منحل کيدو سره به څرنګه او په کومو شرايطو سره نوموړی ځواک د ملي پوليسو په ليکو کې شامليږي. د افغان محلي پوليسو ځواک اوس يو کلن دی او ددې ځواک په پلان کې راغلي ؤ چې نوموړی ځواک به د ۲ څخه تر ۵ کلونو پورې دوام وکړي.

د امريکا متحده آيالاتو يوځ د افغان محلي پوليسو د ځواک اصلي تمويل کوونکی دي چې د ددې ځواک ترشا ولاړ او ملاتړ يې کوي او وايي چې په افغانستان کې د هغوي د استراتيژۍ ډيره مهمه برخه جوړوي په ځانګړي ډول يې تر ۲۰۱۴ کال پورې د نړيوالو ځواکونو څخه افغان ځواکونو ته د واک په سپارلو کې يو مهم ګام بولي. دامريکا د سنا د وسلوالو ځواکونو د خدمتونو کميټې ته په وينا کې چې د ۲۰۱۱ کال د مارچ په مياشت کې وه جنرال پترايس د افغان محلي پوليسو ځواک داسې وباله "دا ځواک په افغانستان کې د افغان ځواکونو لخوا د امنيت په لاس کې نيولو لپاره يو ترټولو مهم عنصر بلل کيږي".

دا پروګرام د امريکا د تاو تريخوالي پر ضد د مبارزې ددکتورين په چوکاټ کې پرمخ ځي. د امريکا د متحده ايالاتو لارښود "د بلوا ضد تکتيکونه" چې په ۲۰۰۹ کال کې خپور شوی، هغه وخت د شبه نظامي ځواکونو د جوړولو سپارښتنه کوي چې ملي ځواکونه د جوړيدو په حال کې وي، پداسې حال کې چې د نوموړو ځواکونو د پاي په اړه يې څه ندي ويلي:

کله چې د کوربه هيواد پوره امنيتي ځواکونه په لاس کې ونه لرى، بايد د محلي شبه نظامي ځواکونو ګمارل او روزنه په پام کې ونيول شي ترڅو د کلي او سيمي امنيت تأمين شي. دا کار يوازې ددي لپاره نه ده چې شبه نظامي دلی به ددې لپاره کار کوي چې دا د هغوي د سيمي سهم دی بلکه هغوي ته به د خپل کار په بدل کې مزد هم

ورکول کیږي. خلکو ته د دندو برابرول اقتصاد هڅوي. ډنده لرل دخلکو روحیی ځواکمنوي او خلکو ته اجازه ورکوي ترڅو د محلي حکومت د بهیر بالقوه غړي شي.

## د افغان محلي پولیسو د ځواک لخوا بشري سرغړونې:

د امریکا ځانګړي عملیاتي ځواکونه چې د افغان محلي پولیسو د ځواک څخه نظارت او هغوي ته روزنې ورکوي، وایي چې ددغه نوي ځواک په رامنځته کیدو سره د یو شمیر سیمو په امنیت کې بهبود راغلی چې په ځانګړې ډول یې د ګیزآباد او ارغنداب سیمو نومونه واخیستل چې افغان محلي پولیس ځواک څخه مخکې هلته " د محلي دفاع د نوښت ځواکونه " ځاي په ځاي ؤ. پداسي حال کې چې دا راپور د اندیښني وړ موضوعات په ګوته کوي، نو ځیني هغه کسان چې مرکې ورسره شوي د کلیوال امنیت څخه ملاتړ کوي، حتي پداسي سیمو کې هم چیرې چې اشخاص د افغان محلي پولیسو ځواک لخوا تقویه کیږي. د بلواګرو د موجودیت د کمښت په وړاندې به د افغان محلي پولیسو د ځواک مثبت اغیز یواځې هغه مهال څرګند شي چې د نړیوالو ځواکونو په شمیر کې کمښت راشي.

په هغو ولایاتو کې چې مونږ پلټني ترسره کړي د جدي اندیښنو لپاره دلایل موجود دي. د مثال په توګه د هرات ولایت د شینډنډ ولسوالۍ چې د ملیشو شریرې او پیچلې ځالې، د مجرمینو داړې، او بلواګر پکښې موجود دي، په نوموړې ولسوالۍ کې د بشر د حقوقو د څار سازمان د بلواګرو او مجرمینو په اړه ګڼ شمیر شکایاتونه ترلاسه کړي چې هغوي د نظارت پرته د افغان محلي پولیسو په ځواک کې جذبیږي. د ځواک د پروګرام په پیلیدو سره افغان محلي پولیس ځواک د غړو په اړه د بشري سرغړونو تورونه راڅرګند شو. د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په میاشت کې افغان محلي پولیس ځواک یو غړی چې د طالبانو سره یې اړیکي لرلي د بخت آباد په کلي کې د دوو کسانو په وژلو تورن ؤ. د یو مقتول د کورنی غړي وویل چې پولیسو ورته ویلي چې د قاتلانو په وړاندې هیڅ ګام نشي اخیستی ځکه چې د هغوي ملاتړ د امریکا د ځانګړو عملیاتي ځواکونو لخوا کیږي. کله چې د مقتول د کورنی غړو امریکایي ځواکونو ته مراجعه وکړه هغوي ورته وویل چې دا په افغان پولیسو پورې تړلې موضوع ده، چې پدې خبره به د خلکو ترمنځ دا نظر چې افغان محلي پولیس ځواک غړي چې د امریکایانو سره اړیکي لري په معافیت سره عمل کوي، نور هم عام شي. په یوه بله ورته پیښه کې چې د ۲۰۱۱ کال د فبرورۍ په میاشت کې افغان محلي پولیس ځواک یوې ډلې په شینډنډ ولسوالۍ کې په ګڼ شمیر کورونو باندې یرغل وکړ او په ترڅ کې یې د هغوي مالونه لوټ کړل او خلک یې ووډبول او په ناقانونه توګه یې ۶ نارینه بندیان کړل. د ۲۰۱۱ کال د جون په میاشت کې د شپې لخوا دوه هلکان افغان محلي پولیس ځواک لخوا ونیول شول چې د یوه په پښو کې یې میخونه ټک وهل شوي ؤ.

پدې وروستیو کې د بغلان په ولایت کې د بلواګرو د شتون، مجرمانه فعالیتونو او د حکومت پلوؤ سرغړونکي ملیشو په دلیل امنیتي وضعه خرابه شوې ده. د اسلامي حزب پخواني جنګیالي د یو محلي زورواکي نورالحق په ګډون افغان محلي پولیس ځواک د غړي په توګه ګمارل شوی دی. نورالحق او د هغه ځواکونو په ډیرو سرغړونکو اعمالو کې لاس لرلو. د ۲۰۱۰ کال د اګست په میاشت کې نورالحق او د هغه پلویانو د امریکایي ځواکونو سره په یو ګډ عملیات کې په یو کور باندې یرغل وکړ او په پایله کې یې د کور د خاوند یو ۹ کلن ځوي په ناحقه وواژه. همدارنګه د ۲۰۱۱ کال د اپریل په میاشت کې د بغلان په ولایت کې افغان محلي پولیس ځواک څلورو غړو یو ۱۳ کلن هلک چې د بازار څخه د کور په لور روان ؤ وتښتاوه او افغان محلي پولیس ځواک د یو فرعي قوماندان په کور کې یې ډلییز جنسي تیری وربانديې وکړ چې په بله ورځ یې تښتول شوی هلک په تیښته بریالی شو. اګر چې ددې پیښې عاملین پیژندل شوي ؤمګر بیاهم هیڅوک ونه نیول شو. په بغلان ولایت کې د افغان محلي پولیسو ځواک، د قتل په یوه بله پیښه کې هم لاس درلود، پولیسو د بشرد حقوقو د څار سازمان ته ویلي دا چې وژونکي د امریکا د ځانګړو عملیاتي ځواکونو سره اړیکي لري نو ځکه هیڅوک نشي کولاي چې هغوي ترپوښتنو لاندې راولي.

د ۲۰۱۰ کال د ډسمبر په میاشت کې د افغان محلي پولیسو ځواک ۶ قومي مشران پدې تور ونیول چې هغوي نه غوښتل په افغان محلي پولیس ځواک کې خپل کسان شامل کړي. محلي چارواکو اود سیمې اوسیدونکو افغان محلي پولیس ځواک ځیني غړي غیرقانوني حملو، وهلو ټکولو او جبري مالیې راټولو تورن کړي دي.

افغان محلي پولیس ځواک  په اړه دا ډول جدي قضیې د هغوي د جلب او جذب په اړه سختې اندیښنې راپاروي. همدرانګه د دې ځواک سره د امریکا د متحده ایالاتو اړیکې او د محلي ولسوال نارضایتی ډیرې پوښتنې راولاړې کړي دي. ډیری افغانانو د بشر د حقوقو د څار سازمان سره د مرکو په ترڅ کې ویلي چې د افغان محلي پولیسو ځواک ته اوریکي او مجرمین جذبیږي. کله چې دا اندیښنې د امریکایي او نورو نړیوالو خواکونو سره مطرح شوې نو هغوي ژمنه وکړه چې د چارو د سمون لپاره به محلیې شوراګانې ددې ډول کړنو مخه ونیسي. په عملیاتي او پالیسي کچو کې، دا پوښتنه راولاړیږي چې پخپله د شورا جوړښت څرنګه دی او شورا دا وړتیا لري چې د ځواکمنو محلي ځواکونو په وړاندې اغیزمن رول ولوبوي.

په ځینو ټولنو کې چارواکو او قومي مشرانو د بشر د حقوقو د څارسازمان ته ویلي چې هغوي په خپلو سیمو کې د افغان محلي پولیسو ځواک په منلو باندې مجبور شوي دي. په شینډنډ او بغلان کې محلي چارواکو د افغان محلي پولیسو ځواک په ځاي په ځاي کولو باندې نیوکه وکړه او همدارنګه د ولسوالي شورا هم د کورنیو چارو وزارت ته وویل چې د افغان محلي پولیسو ځواک به بې ثباتي ته لمن ووهي. محلي وکیلانو د بشر د حقوق د څار سازمان ته وویل چې شورا یې د حکومت ترفشار لاندې ده ترڅو دا ځواک ومني که نه نو د افغان محلي پولیسو په ځواک کې به داسې خپل سري ټاکنې وشي چې د منلو وړ به نه وي ځکه چې ګمارنو امریکایي ځواکونو سره نژدې اړیکې لرلې. د بغلان ولایت د ولایتي شورا رییس د بشر د حقوقو د څار سازمان ته وویل چې هغه خپله نیوکه څرګنده کړې چې امریکایي ځواکونو ته ښه څرګنده ده:

> ما د ځانګړو ځواکونو څخه د ښاغلي تورن اندي سره خبرې وکړې او ورته ومې ویل چې تاسو ددې لپاره دلته راغلي یاست چې د افغان ولس سره مرستې وکړئ نه ددې لپاره چې مجرمین په وسلو سمبال کړئ... ښاغلي تورن اندي په ځواب کې راته وویل چې هغوي مجرمین ندي. زه ډیر حیران شوم چې ځانګړي ځواکونه د دې ډول خلکو ملاتړ کوي.

د امریکا ځانګړي ځواکونه چې د افغان محلي پولیسو ځواک کې د شاملیدو خبرې کوي داسې دي لکه "ریګ کې د کرښې ایستل" – دا اورپکو ته یو څرګند سګنال دی چې د ټولنو څخه د هغوي د دولت د ملاتړ پوښتنه وکړي. د خلکو څخه پوښتنه کیږي چې یو انتخاب وکړي: یعني ووایي چې یا له مونږ سره دي او یا زمونږ په خلاف دي. مګر د ډیری افغان ټولنو لپاره دا انتخاب دوه ګونی ندی چې دواړه خواوې انتخاب کړي. د هیواد په ځینو برخو کې دې پریکړې ته پدې سترګه کتل کیږي چې یا د هغو حکومت پلوۀ ملیشو ملاتړ وکړي چې جنسي تیري، وژنې او غلاوې یې کړي او یا د طالبانو چې بمي حملې ترسره کوي، دولتي مامورین وژني او د نجونو په ښوونځیو کې د هغوي ښوونکو ته مرګوني تهدیدونه کوي.

د امریکا او آیساف ځواکونو دا ناسم انتخاب په ۲۰۰۱ کال کې افغانستان ته د خپل راتګ سره سم رامنځته کړی دی چې په لړ کې یې یا بدنامو وسلوالو ډلو ته د امنیت په ټینګولو کې برخه ورکوي او یا هغوي ته په  لوژستکي یا بیارغونې په ډګر کې ګټور قراردادونه ورکوي. داسې ښکاري چې نړیوال ځواکونه ددغو اړیکو په اړه ړانده دي. په ځینې نورو قضیو کې هغوي په دسیسو کې ښکیل دي اګر چې هغوي د "بدو خلکو" په وړاندې د جګړې خبرې کوي.

د افغان حکومت او نړیوال متحدین چې اوس د طالبانو او نورو جنګي ډلو سره د روغې جوړې خبرو ته وده ورکوي، د افغان پولیسو فریب تقریباً د مقاومت وړ ندی. پخلا شوي جنګیالي نه یواځې دا چې وظیفو ته اړتیا لري بلکه امنیت ته هم اړتیا لري ترڅو د انتقامي بریدونو څخه خوندي پاتې شي. مګر د خلکو لپاره دا یوه داسې خبره ده چې اوس هغه خلک وینې کوم چې په کلونو د هغوي په وړاندې وسلې پورته کړې وې او اوس د هغوي د پلویانو لباس یې په تن کې دی. که چیرې ټولنه پدې پوې شي چې د دولت دا نوی محلي ځواک مسؤل نه ګڼل کیږي او د هغوي په وفاداري کې هم توپیر ندی راغلی، نو هغوي به بیا هم د نوموړي ځواک څخه ملاتړ ونکړي او نه به په هغوي باندې باور وکړي.

### د ملېشه ځواکونو د سيور ويرې:

په ۲۰۰۲ کال کې د کرزي د واکمنۍ د جوړېدو څخه راپدې خوا، افغان دولت او نړيوالو ملاتړو يې وخت په وخت سره ژمنې کړي چې نامسؤل وسلوال کسان به بې وسلې کوي. مګر دا هڅې ترډېره بې اغېزې وې او پايلې يې ندي لرې او د زورواکو وسلوالو له لوري يې مخه نه ده نيول شوې ده او د امريکا او نورو نړيوالو ځواکونو له لوري د حمايت شويو مليشو په مالي، لوژيستيکي او نظامي مرستو سره له منځه تللي دي. د بې وسلې کولو هڅې هم د مخ پرزياتيدونکو جګړو او ناارامېو له کبله له خنډ سره مخ شوي ځکه چې ډېرى خلک پدې اند چې ملي اردو، پوليس، او نړيوال ځواکونه نشي کولاي چې د هغوي امنيت تأمين کړي نو ځکه خپلې وسلې نه تسليموي.

لکه څرنګه چې امنيتي وضعيت خراب شوى او په حکومت باندې د خلکو باور له منځه تللی، نو افغان او بهرنيو پاليسي جوړونکو په وار وار سره خپل پام د قومي مليشو يا د ټولنو څخه د دفاع ځواکونو ته پام اړولى دى، پداسې حال کې چې ددې ځواک د جوړولو تجربه تل د ناکامۍ سره مخ شوې ده. چې ډېرې روښانه بېلګې يې موجودې دي، په ۲۰۰۶ کال کې افغان کومکي ملي پوليس وروزل شول مګر د هغوي دندې سمې مشخص نشوې او په سم ډول يې نظارت ونشو نو په همدې اساسي ډېر فاسد ؤ. په رسمي ډول هغو ته "ټولنيز نظم ساتنه" نوم ورکول شو مګر په حقيقت کې د افغان کومکي ملي پوليسو څخه د يو ناسم چمتو شوي شبه نظامي ځواک په توګه کار واخيستل شو. د کورنيو چارو وزارت يو پخواني چارواکي د مرکي پرمهال هغوي ته د "غوښې د سپر" نوم ورکړ چې د تيښتې کچه يې ډېره لوړه وه. هغوي سرغړونکې ؤ، د جنګ سالارانو په ولکه کې ؤ او د طالبانو نفوذ ته يې لاره هواره وه.

د وردګو په ولايت کې د افغانانو د عامه خونديتوب پروګرام (AP3) په ۲۰۰۹ کال کې پيل شو، تمرکز يې په هغو خطرونو باندې ؤ چې د ټولنيزې دفاع ځواک د ټوپک سالارو په ولکه کې اچول شوی ؤ. د قوميت له پلوه وردګ يو ګډ ولايت دی چې ګڼ شمير قومونه پکښې ميشت دي چې د ۲۰۰۸ کال راپدې خوا يې امنيتي وضعه ډېره خرابه شوې ده. د افغانانو د عامه خونديتوب پروګرام موخه دا وه چې عامه خونديتوب ته لار هواره کړي او د طالبانو مخه ونيسي مګر نوموړي ځواک د ګوتو په شمير يو څو پښتانه غړي لرل. دا فقط د غلام محمد څخه وروسته ؤ چې د طالبانو او د اسلامي حزب د توندلاري ګوند سره يې اړيکې لرلې، په نوموړي ځواک کې شامل شو چې نوموړی پدې وتوانيد چې پښتانه جذب کړي. دا کار هم د لګښتونو څخه ډک ؤ.

د پيل څخه يو شمير قومي مشرانو د افغانانو د عامه خونديتوب په پروګرام کې د غلام محمد د ګډون سره مخالفت وښود ځکه چې هغه په سيمه کې يو بدنام کس ؤ او پلويانو يې هم ډېر خراب نوم درلود. د بشر د حقوقو د څار سازمان يو شمير د وهلو ډبولو او تهديدولو د جريان خبرونه ترلاسه کړل. محلي خلکو ادعا وکړه چې د غلام محمد ډېرى کسان خو يا مجرمان ؤ او يا د طالبانو غړي ؤ. يو کس د بشر د حقوقو دڅار سازمان ته داسې وويل: "دا کسان د طالبانو او د جهاد په وخت کې زما خپل کسان ؤ او اوس هم د اربکيو په نوم دي مګر زما کسان دي". غلام محمد د افغانانو د عامه خونديتوب د پروګرام د مشرى څخه په ۲۰۱۰ کال کې ګوښه کړاي شو مګر پلويان يې اوس هم د افغان محلي پوليسو د ځواک غړي دي.

***

افغان محلي پوليس ځواک په ناامنو سيمو کې د چټک امن د راوستلو لپاره مهم ګام بلل کيږي. مګر ډېرى افغانان چې د بشر د حقوق د څار سازمان ورسره مرکې کړي پدې اند ؤ چې دا ځواک به هغه مهال په يو بې ثباته کوونکې ځواک واوړي چې هغه ځايي زورواکي ځواکمنوي کوم چې د مجازاتو څخه هيڅ ويره نلري او ځان په معافيت کې ګڼي، چې زمونږ تحقيق وايي چې دا کار په ځينو سيمو کې لا مخکې ترسره شوی دی. ددې لپاره چې افغان محلي پوليس ځواک د ناوړه وسلوالو د نفوذ څخه خوندي پاتې شي، بايد د حکومت دننه د مجازاتو څخه د معافيت د دود، اداري فساد او ډل بازيو سره مبارزه وشي. اګر چې تراوسه دې نظر ته په عمل کې ډېر پام ندی شوی. د طالبانو د رژيم د ړنګيدو څخه پوره لس کاله تير شو مګر اوس هم د حکومتي ادارو په اغيزمنولو کې ډېر څه ندي ترسره شوي خصوصاً د قانون د حاکميت په برخه کې. د کرزي حکومت د فاسدو يا د هغوي د ملاتړو په وړاندې د مبارزې ډېره علاقه مندي نده ښودلې. د امريکا حکومت ندي غوښتي چې خپله سياسي پانګه د اصلاحاتو په برخه

کې ولګوي. د امریکا حکومت د خپل د بشر د حقوقو د قانون د احکامو پراساس چې لیهي قانون (Leahy Law) يې بولي، مکلف دی چې باید د بهرني هیواد د هغه نظامي واحد سره چې د بشر د حقوقو څخه سرغړوني کوي او ځان په معافیت کې ګڼي، کومک ونکړي. د امریکا د دفاع وزارت افغان محلي پولیس ځواک سره پوره مرستې کوي، نو څکه ورته پکار ده چې د لیهي قانون (Leahy Law) د احکامو په وړاندې د امریکا د حکومت مسؤلیتونه په پام کې ونیسي.

ددې پرځای چې د سرغړونو په وړاندې جدي ګامونه پورته شي، لنډ مهالي اصلاحات يو نورم ګرځېدلی دی، او معیارونه کمزوري کړل شوي دي. دامریکا په حکومت باندي پرله پسې فشارونه چې په افغانستان کې باید د خپلو ځواکونو په شمیر کې کمښت راولي او همدارنګه په افغانستان کې د امریکا د زیاتو مالي لګښتونو په اړه اندیښنې چټک اصلاحات لکه د پولیسو دا ډول ځواک، نور هم هڅوي. دا نظر د افغانستان د اوږدمهاله اړتیا په تاوان دی. لکه څرنګه چې امریکا افغان ځواکونو ته د واک د سپارلو تابیا نیسي، نو باید داسې یوه امنیتي ستراتیژي غوره کړي چې د ثبات ضامن وي او د افغانانو ټول بشري حقوق پکې خوندي وساتل شي.

د جنرال مک نل هغه اندیښنې چې ددې راپور په پیل کې يې څرګندې کړې او ويل يې چې شبه نظامي ځواکونه کولای شي چې د ځايي زورواکو او جنګسالارو ځواکمنول پاي ته ورسوي، باید افغان محلي پولیس ځواک د ارزیابۍ او د افغان حکومت د ملیشو ته د ودې ورکولو په سر کې ځاي ولري. باید افغان محلي پولیس ځواک و ارزول شي چې آیا کولای شي چې د بشر د حقوقو څخه د سرغړونې پرته امنیت راوستلی شي. که چیرې دا ځواک یوه بله بدنامه ملیشه وي نو دا به نه یواځې ځايي ټولنو ته تاوان وي مګر د مرکزي حکومت ملاتړ به هم زیانمن کړي او سیاسي او قومي اور به بل وساتي. یا لکه چې يو قومي مشر په شینډنډ کې وویل، "مونږ به د طالبانو په لور بوځي."

د تیرو ناکامیو او د ګڼ شمیر افغانانو د غوښتنو سره سره، د نویو محلي ځواکونو د جوړولو ستراتیژي د ورسره خطرونو په لرلو سره، بیاهم ادامه لري. اوس دا به دافغان حکومت او نړیوالو لپاره یوه عمده ازموینه وي چې څرنګه به افغان محلي پولیس ځواک سره معامله کوي. مګر په خواشینۍ سره باید ووایو چې تراوسه دا نده روښانه چې کومه خوا به دا زغم ولري چې داسې پایدونکې پالیسي پلي کړي چې ځايي عام خلک د اورپکو او دولت پلوؤ سرغړونکو ځواکونو څخه خوندي پاتې شي. بې له دې چې دې ته پام وشي چې کوم لورې سرغړونکی دی.

### ***سپارښتنې***

ددې لپاره چې افغان ولس ته ښه امنیتي فضاء برابره شي، او په افغانستان کې د بشر حقوق وده ومومي او خوندي پاتې شي، نو افغان حکومت او نړیوالو ته پکار دی چې د سرغړونکو وسلوالو ډلو او زیان اړونکو قوماندانانو سره اړیکې پرې کړي او د ښه روزل شویو امنیتي ځواکونو د رامنځته کولو لپاره چټک ګامونه پورته کړي، داسې ځواکونه چې د قانون سره سم عمل کوي او د خپلو کړنو مسؤلیت په غاړه واخلي.

### **د افغانستان حکومت ته:**

*دافغان محلي پولیس روزل چې مسؤلیت پذیر شي*

- د افغانستان حکومت باید ډاډ ترلاسه کړي چې د افغانستان د محلي پولیسو په ځواک باندې د سرغړونو ټول تورونه لکه ناقانونه توقیفول یا د وسلو کارول، د حکومت له لوري په کلکه څېړل کیږي. او همدارنګه ډاډ ترلاسه کړي چې د افغانستان د محلي پولیسو د ځواک د مسؤلیت منلو میکانیزم د نوموړو ځواکونو له لوري په لیرې پرتو سیمو کې د بشري 43سرغړونو ډیر خطر په پام کې لري.
- د اضافي پرسونل په ګډون باید ډیرې منابع ورته ځانګړې کړي، ترڅو د شکایتونو په اړه په سم ډول تحقیق وشي. شکایاتو ته د رسیدګۍ یوه بهرنۍ اداره تأسیس کړل شي ترڅو افغان محلي پولیس ځواک او پولیسو له لوري د ترسره شویو سرغړونو راپورونه د خلکو لخوا ورکړل شي. دا اداره باید ځانګړي

ولایتي کارکوونکي ولري ترڅو په پراخ ډول افغان محلي پولیس ځواک څخه نظارت وکړي او په لیرو پرتو او خصوصاً په خطرناکو سیمو کې هغوي ته ځانګړی پام وکړي.

- افغان محلي پولیس ځواک د هغو غړو دندې وځنډول شي په کومو باندې چې د بشري سرغړونو باوري تورونه موجود وي. دا ځنډول باید ترهغه وخته پورې ادامه ولري چې په هغوي باندې لګول شوي تورونه په بشپړ ډول وڅېړل شي. او ګرم کسانو ته سزا ورکول شي.
- د قرباني او شاهد لپاره باید د خوندیتوب پروګرام رامنځته شي، چې باید داسي میکانیزمونه په کې شامل وي چې د هغه شکایت کوونکي پیژندګلوي باید پکي پټه پاتي شي کوم چې د غچ اخیستنې څخه ویره لري.

## دافغان محلي پولیس ځواک جلب او جذب اوددوی پخوانی سابقی څیړل:

- د کورنیو چارو د وزارت د ۲۰۱۱ کال د فبروری د میاشتي لارښود چې افغان محلي پولیس ځواک د جلب او جذب، تقوېې او کړنو په اړه دی، باید تعدیل شي. په ځانګړي ډول، ټولي ټاکنی باید په دقیق ډول د ارزونو په ترڅ کې ترسره شي، اګر که مخکې یې په ورته ځواک کې کار هم کړی وي او یا د بیا استقرار د بهیر څخه تیر شوی وي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې افغان محلي پولیس ځواک نوې ګمارنې په ډیر دقت سره ترسره کیږي او د هر کس د ګمارنې څخه مخکې وکتل شي چې د بشري سرغړونو تورونه وربانديې نه وي لګیدلي اګر که نوموړی کس پخوانی جنګیالی او یا د بیااستقرار د بهیر څخه هم تیر شوی وي. که چیرې د بشري سرغړونو تورونه وربانديې ثابت شي نو باید افغان محلي پولیس ځواک کې شامل نه شي او د تیرو بشري سرغړونو لپاره هم ترتعقیب لاندې راشي او مسؤل وګڼل شي. د داخلي وزارت د چاروکو له لوري د جلب او جذب د اصولو څخه په قصدي ډول سرغړونه د هغوي په وړاندې د تأدیبی عمل سبب ګرځي چې افغان محلي پولیس ځواک د جلب او جذب د واک څخه محرومیدل هم پکي شامل دي.

## دافغان محلي پولیس ځواک عملیاتي مقررات:

- افغان محلي پولیس ځواک غړو ته باید د توقیف او په وسلوالو عملیاتو کې د ګډون ټول عملیاتي مقررات روښانه شي ترڅو د راتلونکو بشري سرغړونو مخنیوی وشي او ډاډ ترلاسه شي چې د نظارت او ارزونې دنده په سم ډول ترسره شوې ده. افغان محلي پولیس ځواک غړي باید د هرډول توقیف څخه منع کړاي شي مګر یواځې هغه مهال کولاي شي چې توقیف ترسره کړي چې جرم مشهود وي او ملي پولیس موجود نه وي ترڅو د توقیف عمل ترسره کړي او د متهم د تیښتې ګمان هم موجود وي. افغان محلي پولیس ځواک نشي کولاي چې د نیول شویو کسانو څخه پوښتنې او ګرویزنې وکړي او باید په فوري ډول یې وسپاري چې حد اکثره موده یې ۴۸ ساعته ده، دا هم ددې لپاره چې که چیرې د هغوي موقعیت پداسې یوه لیرې پرته سیمه کې وي چې انتقال یې وخت ته اړتیا ولري. افغان محلي پولیس ځواک غړي چې ناقانونه وسله ولري باید تر تحقیق لاندې ونیول شي او بندیز وربانديې ولګیږي.

## دافغان محلي پولیس ځواک د پروګرام ارزونه:

- د یو خپلواک بورډ تشکیلول ترڅو افغان محلي پولیس ځواک د پروګرام بررسي وکړي چې باید لاندې ارزونې پکي ترسره شي:
  - افغان محلي پولیس ځواک د غړو په ګمارلو کې د هغوي وړتیاوې ارزول، همدارنګه پدې اړه هم ارزونه ترسره کول چې د هغوي په ډله کې خو به داسي کسان نه وي جذب شوي چې د بشري سرغړونو مسؤل وي.
  - ارزونه کول چې افغان محلي پولیس ځواک د خپلو عملیاتي مقرراتو سره سم عمل کوي یعنې توقیف، ګرفتاری او ټولي چارې یې د قانون د احکام سره سم ترسره کیږي.

- ارزول چې ګواکې افغان محلي پولیس ځواک محلي زورواکي او ټوپکسالاران ځواکمنوي.
- د جلب او جذب په بهیر کې د محلي شوراګانو اغیزمنتوب.
- د افغانستان د محلي پولیس د ځواک اغیز د سیاسي او قومي اړیکو او اندیښنو په برخه کې او
- د حکومت د بیاستقرار د بهیر اغیز د افغانستان په محلي پولیس ځواک باندې.

- پدغه خپلواک بورد کې باید د افغانستان د حکومت ګڼ شمیر چارواکي، د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمیسیون، د مدني ټولنې استازی او د یوناما کتونکي شامل وي.

**دافغان محلي پولیس ځواک پلان شوی انحلال:**

- په ۲۰۱۲ کال کې افغان محلي پولیس ځواک د انحلال عملي پلان د افغان او نړیوالو چارواکو د واک د انتقال د بهیر سره یوځای جوړیږي.
- د انحلال د بهیر څخه مخکې افغان محلي پولیس ځواک د هغو غړو لپاره د بدیلو دندو پلان جوړیږي کوم چې ملي پولیسو او ملي اردو ته نه وي انتقال شوي.
- باید ډاډ ترلاسه شي چې افغان محلي پولیس ځواک د انحلال سره سم باید د نوموړي ځواک د غړو وسلې او یونیفورم حکومت ته تسلیم شي، او باید خبرداری ورکول شي چې د وسلو او یونیفورم د نه تسلیمولو په صورت کې به د نغدي جریمې او نورو بندیزونو سره مخ شي.
- باید ډاډ ترلاسه شي چې د انحلال باوري بهیر د اوږدمهال امنیت په پلان جوړولو کې مهم دی په ځانګړي ډول د انتقال د پلانونو د جوړیدو څخه وروسته.

**افغان محلي پولیس ځواک او د افغانستان د سولې او پخلاینې پروګرام:**

- هغه کسان چې د بیاستقرار او سولې د بهیر څخه تیریږي، باید د افغانستان د محلي پولیس په ځواک کې د شاملیدو څخه یې تریو کال پورې مخنیوی وشي ترڅو د بهیر شفافیت څرګند شي. او خلک دې ته وهڅول شي چې هغه کسان چې د سولې په پروګرام کې داخل شوي په خپلو د تاوتریخوالي د پرینبودو په ژمنه باندې ولاړ دي. ډاډ ترلاسه کول چې افغان چارواکي د والیانو او نورو چارواکو په ګډون چې د سولې او پخلاینې په بهیر کې رول لري، د ټوپکسالارو سره د افغان محلي پولیسو په ځواک کې د شاملیدو سره د دندو ژمنه نه کوي.
- ډاډ ترلاسه کول چې د سولې په بهیر کې د داخل شویو کسانو د پوره خوندیتوب لپاره پوره منابع موجودې دي، دا ځکه چې افغان محلي پولیس ځواک د هغوي لپاره د خوندیتوب یواځینی انتخاب ونه ګڼل شي.
- ډاډ ترلاسه کول چې افغان چارواکي د والیانو او نور چارواکو په ګډون چې د سولې او پخلاینې په بهیر کې رول لري، د جلب او جذب د اصولو په پام کې نیولو څخه پرته ټوپکسالارو سره د افغانستان د محلي پولیسو په ځواک کې په شاملولو سره د دندو ژمنې نه کوي.
- ډاډ ترلاسه کول چې د سولې په بهیر کې د شاملیدو میکانیزمونه ټولو ته روښانه شوي ترڅو خلک یو ښه چانس ولري چې د سولې په پروګرام کې د هغو داخلیدونکو پخوانیو جنګیالیو په اړه خپلې اندیښنې څرګندې کړي کوم چې په بشري سرغړونو باندې تورن دي. د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسون، مدني ټولنو ډلو، او نورو اړوندو اداري شاملول ترڅو د هغو کسانو په اړه معلومات شریک کړي کوم چې په ناوړه کړنو، جنګي جرمونو او بشري سرغړونو باندې د باوري سرچنو له تورن ګڼل شوي دي.

**ناقانونه وسلوالې ډلې**

- د ناقانونه وسلوالو ډلو منحلول، او د هغوي د بشري سرغړونو په اړه د هغوي څخه تحقیقات او د هغوي مسؤل ګڼل.

- د ملي امنیت عمومي ریاست باید د ناقانونه وسلوالو ډلو هرډول مرسته لکه په وسلو سمبالول، پیسي ورکول او نورې مرستې ودروي.
- د سیمه ایزې حکومتدارۍ خپلواکه اداره (IDLG) باید محلي چارواکي لکه والیان او ولسوالان پدې باندې خبر کړي چې هغوي دا واک نلري چې ناقانونه وسلواله ډله جوړه او یا مرستې ورسره وکړي. که چیرې نوموړې اداره پدې اړه د سرغړونې کوم راپور ترلاسه کوي نو باید زرترزره د ولس مشر دفتر او کورنیو چارو وزارت ته خبر ورکړي.

### د ماشومانو د ګومارنې او د جنسي تیري په اړه:

د کورنیو چارو وزارت او د ملي دفاع وزارت باید ډاډ ترلاسه کړي چې "د افغان دولت او د ملګرو ملتونو د ماشومانو په اړه هغه ځانګړی کاري پلان چې د هغوي څخه د افغانستان د ملي ځواکونو سره د تراؤ څخه نظارت کوي" تطبیقیږي. ډاډ ترلاسه کول چې نوموړی کاري پلان افغان محلي پولیس ځواک د نظارت لپاره پوره منابع په لاس کې لري ددې په ګډون چې وکولای شي چې افغان محلي پولیس ځواک د غړیو عمرونه هم بررسي کړي.

- د امنیتي ځواکونو ټول هغه غړي ترعدلي او قضایي تعقیب لاندې نیول کوم چې د ماشومانو په جنسي تیري کې لاس لري او په رسمي بیان کې ټولو ته دا پوهاوی ورکول چې دولت په خپله پالیسي کې د هغو امنیتي ځواکونو لپاره هیڅ زغم نه لري چې په ماشومانو باندې جنسي تیری کوي.

### طالبانو او نورو اورپکو ځواکونو ته:

- د ملکي وګړو په وړاندې خپلې حملې بندې کړي، همدارنګه په هغو پولیسو باندې حمله ونکړي کوم چې د اورپکو ضد عملیاتو کې ونډه نلري او په جګړو کې په مستقیم ډول ښکیل نه وي.

### د امریکا د متحده ایالاتو او آیساف ځواکونو ته

- په افغان دولت او نورو ادارو باندې فشار راولي ترڅو پورتنی سپارښتنې عملي کړي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې د افغانستان محلي پولیسو د ځواک لپاره فشار چې د هغوي د پایلو د ترلاسه کولو او یا حکومتدارۍ د قانوني اندیښنو په موخه وي، باید د ګمارنې او عملیاتي مقرراتو کې د غفلت سبب ونه ګرځي.
- باید خلکو ته د امنیت راوستلو او د هغوي د خوندیتوب په داسي اوږدمهالو حل لارو باندې تمرکز وکړي چې د قانون د حاکمیت او نړیوالو معیارونو پر بناء وي.
- کله چې امریکایي ځواکونه د افغانستان د محلي پولیسو د ځواک او وسلوالو ډلو د بشري سرغړونو څخه خبریږي نو باید په اړه یې خپلې داخلي لارښووني څرګندې کړي، په ځانګړي توګه په لاندې برخو کې:
    - د خلکو په هغه ګمان باندې چې وایي وسلوال ځواکونه لکه د افغانستان د محلي پولیسو ځواک د امریکایي ځواکونو سره اړیکي لري، اعتراف کول، پداسي حال کې چې نوموړي وسلوال ځواکونو ته ډیری وخت د مسؤلیت منلو په وړاندې د خنډ په سترګو کتل کیږي.
    - ډاډ ترلاسه کړي چې په وسلوالو ټول لګول شوي تورونه په سم ډول څیړل کیږي. د افغان دولت محلي چارواکو سره بایدامریکایي ځواکونه په عملیاتو او تحقیقاتو کې شفاف وي.
    - د هغو شکایت کوونکو او د هغوي کورنیو لپاره باوري خوندیتوب برابرول کوم چې د غچ اخیستې څخه ویره لري. پدې کې دا شامل دي چې د شکایت کوونکو سره کومک وکړي ترڅو هغوي وکولای شي چې د مرکزي حکومت ادارو ته رسیدګي ولري چې د تهدید څخه خوندي پاتې شي. امریکایي چارواکي باید دولتي چارواکو ته د هغو شکایت کوونکو مستقیم استازیتوب وکړي کوم چې په خطر کې وي.

- دکافي میکانیزمونو د په لار اچولو لپاره د افغان دولت سره کار کول، لکه په هغو ولسوالیو کې د کسانو ګمارل چیرې چې د افغاستان محلي پولیس ځواک میشت وي ترڅو د بشري حقوقو هرډول سرغړونو مخنیوی، نظارت او ځواب ووایي.
- ډاډ ترلاسه کول چې هغه امریکایي ځواکونه چې د افغانستان محلي پولیسو د ځواک په رامنځته کولو کې رول لري، په افغان دولت باندې فشار نه راوړي ترڅو د قوماندانانو د جذب لپاره د ګمارنې د بهیر د مقرراتو څخه سرغړاوی وکړي.
- ډاډ ترلاسه کول چې د افغانستان محلي پولیس ځواک ته ورکول شویو روزنو ښې پایلې لرلې او هغوی یې د خپلو مقرراتو څخه خبر کړي دي یعنی هغوي ته یې پدې اړه پوهاوی ورکړی چې دندې یې کومې دي او همدارنګه باید توقیف ترسره نه کړي او هغوي د پوښتنو او ګرویژنو واک نلري اود وسلې لرل یې هم محدود دي.
- ډاډ ترلاسه کول چې ایساف ځواکونه د افغانستان د محلي پولیسو څخه د عاجلو حالاتو لکه د یاغیانو ناڅاپي حملو څخه پرته د قانون د انفاذ یا نظامي عملیاتو کې کار نه اخلي.

## د امریکا د متحده آیالاتو د بهرنیو چارو وزارت ته:

- ډاډ ترلاسه کول چې افغان محلي پولیس ځواک او یا نورو وسلوالو ډلو چې د امریکا لخوا بودیجه او روزنې ورکول کیږي، د بشري سرغړونو د مخنیوي، نظارت او د هغوي د ځواب ویلو لپاره پوره میکانیزمونه موجود دي. د امریکا د لیهي قانون (Leahy Law) په پوره ډول تطبیقول، ځکه چې په نوموړي قانون کې راغلي چې امریکا باید د بهرني هیواد د هیڅ نظامي واحد سره چې د بشر د حقوقو څخه سرغړونې کوي او ځان په معافیت کې ګڼي، کومک ونکړي. اوهمدارنګه که چیرې د بشري سرغړونو، ظلم، د ژوند د حق څخه د محرومولو او غیرانساني چلند څرګند او باوري مدارک موجود وي نو د امریکا حکومت د ذکر شوي قانون د احکامو له مخې باید د کومک کولو څخه یې ډډه وکړي او فاعلین یې باید د عدالت میز ته راکش شي.[2]

## د امریکا د ملي دفاع وزارت او د امریکا څارګرې ادارې (سی آي ای) ته

- د افغانستان د امنیي ځواکونو او نورو وسلوالو ډلو سره باید دخپلو اړیکو نظارت وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې له داسې کومې ډلې یا کس سره مرسته نه کوي په کومو چې د جدي بشري سرغړونو تورونه دي. د بدنامو قوماندانانو او ډلو سره اړیکې قطع کړي لکه د روزنې، وسلې او پیسو ورکول.
- د افغان ځواکونو له لوري د بشر د حقوقو د هرډول سرغړاوي په اړه اړوندو افغان چارواکو ته خبر ورکول او په وړاندې یې د لازم تعقیبی اقدام څخه ډاډ ترلاسه کول.

---

[2] ددې لپاره چې د امریکا د لیهي قانون رعایت شي، د سفارت کارکوونکو ته پکار دی چې د هغو نظامي واحدونو بشري چڼلدونه ترنظارت لاندې ونیسي کوم چې د امریکا د متحده آیالاتو د امنیتي مرستو څخه برخمن کیږي. نوموړی قانون د کولمبیا، اندونیزیا او نیپال هیوادونو کې تطبیقیږي. د ۲۰۱۰ کال په اکتوبر میاشت کې نوموړی قانون د پاکسان د شپږو نظامي واحدونو په وړاندې هم تطبیق شو کوم چې د سوات په دره کې په بشري سرغړونو باندې تورن ؤ.